# زېرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس كال ۱۳۱٦ هجري شمسي

سه شنبه، (۱۵-۱۸مه) ګڼه، (عقرب- قوس) درېيمه دوره، پرله‌پسې (۳۸۳-۳۸٦مه) ګڼه، د ۱۴۰۰ل.کال د قوس(لیندۍ) د میاشتې ۳۰مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال، د جمادي الاول د میاشتې ۱٦مه او د ۲۰۲۱ز.کال، د ډسمبر ۲۱مه.


چې نظر کړم په قسمت او په نصيب
راته هيڅ شي خپل تالاش و خپل ترتيب
مګر خود په خپله خدای د چا طبيب شي
ګڼه نشته په جهان کې بل طبيب

رحمان بابا

## څېړنه بې سرچينې شونې ده؟


څېړنوال سيدنظيم سيدي


که چېرې وغواړو چې د يو عالم، هنرمند، اديب، فيلسوف، عارف او دې ته ورته نورو کسانو په اړه معلومات ترلاسه کړو؛ نو اړ يو چې ډېرو دقيقو مراجعو ته مراجعه وکړو او په اړه يې معتبر مواد پيدا کړو. دغه شان منابع پېژندنه هم ده، که چېرې غواړو د يوې موضوع يا اثر په اړه څېړنه وکړو؛ نو اړيو چې ډېرو دقيقو او منل شويو منابعو ته سر ورښکاره کړو او په اړه يې څېړنه وکړو.

اوس د دې لپاره چې منابع وپېژنو او ترې سمه ګټه واخلو په کار ده چې دوې خبرې په پام کې ونيسو:

۱. د منابع پېژندل

۲. له منابع څخه د ګټنې له ډول سره اشنايي.

د منابع پېژندل په دې معنا چې په دې ځان پوه کړو، څه ډول مواد له کوم ځايه او په څه ډول ترلاسه کړو او له منابع څخه د ګټنې له ډول سره اشنايي په دې معنا، چې څه ډول مواد، په کومه کچه، په کومه بڼه او په څه ډول يې بايد له منابعو څخه ترلاسه کړو.

د منابع پېژندنې لپاره پوهانو بېلابېل کرندودونه او ابزار جوړ کړي دي، چې د هغې له ډلې کولای شو د کتاب پېژندنې فهرست، مقالې، ليکونو، د کتابت پاڼې، لمن ليکونو، د اثارو کره کتنې او څېړنې او د خپرندوی ټولنې فهرستونو نومونه ياد کړو. همدغه ياد توکي دي چې له يو څېړونکي سره د منابع په پېژندنه کې پوره مرسته کوي، د څېړونکي کار اسانوي او له ډېرې ستړيا او سرګردانۍ څخه يې ژغوري.

البته په پورته يادو شوو توکو کې لومړی شرط دا دی چې بايد دا ټول مواد د الفبا په ترتيب سره جوړ شي؛ ځکه که چېرې نظم په کې مراعت شوی نه وي؛ نو څېړونکی له پخوا څخه هم ډېر په تکليفېږي، دا په دې بڼه به خبر وي چې د ده د اړتيا وړ کتاب يا رساله په کې شته؛ خو لټه به يې په کافي اندازې وخت ترې غواړي او څېړونکي ته ۳مخ




۲مخ


څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي


### رښتينې نيکمرغي

۲مخ


څېړنپوه مولاجان ټنيوال


## د لرغونو ژبې او د هغوی راتلونکې

لکه څنګه چې د ژبپوهنې د اصولو له مخې هيڅ يوه ژبه پر بلې ژبې باندې تفوق نه لري په همدې ډول هيڅ يوه وړه ژبه له سترې ژبې څخه کمه نه ده. دا په دې دليل چې هره يوه ژبه د يوه ولس يا يوې ټولنې د پوهولو راپوهولو وسيله او د کلتوري او تاريخي ارزښتونو ايجادونکې او ساتونکې ده. يوه وړه ژبه هم د يوې سترې ژبې غوندې د ټولنې په چوپړ کې ده. موږ په دې لنډه او تنګه ليکنه کې د لرغونو د ژبو د تاريخ، لرغونتوب او د دوی د ويونکو د هستوګنې د سيمو په باره کې څه نه وايو، او د تحول او پرمختګ په لړۍ باندې يې هم خبرې نه کوو، ځکه دا يوه ځانته څېړنيزه موضوع ده، خو د ژبو ترمنځ د اړيکو او اغېزو په باره کې يو څه ويل ځکه اړين دي چې د دوی ترمنځ متقابلې اغېزې يو شان نه دي. په دې علت دا شونې ده چې يوه ژبه به د بلې په نسبت زيان منونکې وي. دا جوته خبره ده چې ځينې ټولنې د ګوتو په شمېر ژبې لري او ژبنې تعادل هم تر يوې اندازې پورې پکې مراعات شوی دی او دا وېره نشته چې د هغوی له منځه دې يوه نيمه ژبه له منځه ولاړه شي.

دې ته مو هم بايد پام وي چې ټولنپوهنه، انتروپولوژي، تاريخ او نور علوم هم د ژبو د له منځه تللو سره مخالف دي، دا ځکه چې ژبې د څېړنو د بېلابېلو برخو په جوتولو، روښانولو او پېژندلو کې غوڅه ونډه لري. د پوهانو د ځرګندونو له مخې دا هم په زبات رسېدلې خبره ده چې هيڅ ولس، قوم يا ټولنه دا نه غواړي چې خپله ژبه له لاسه ورکړي، دا ځکه چې ژبه د يوه ولس د هغه د تاريخ، کلتوري ارزښتونو او تمدن د ساتلو او انتقال اړينه وسيله ده. په دې ليکنه کې داسې څه نشته چې موږ يې داخلي عوامل وبولو، او ووايو چې دا عوامل ژبه له منځه وړي. د ژبې د له منځه وړلو ټول عوامل بهرني دي. د دې يادونې معنا دا ده چې په داسې ټولنو کې چې په هغې کې سترې او وړې ژبې څنګ په څنګ ژوند کوي او ويونکې يې د خپلو ستونزو د حلولو په موخه يوه ژبه کاروي طبيعي خبره ده چې هغه به د اکثريت ژبه وي. د اکثريت د ژبې کارونه د وخت په تېرېدو سره وړې ژبې په لومړي سر کې تر خپلې اغېزې لاندې راولي او بيا يې له داسې يوه حالت سره مخامخ کوي چې متروکې او ورکې شي.

پوهانو دا يادونه هم کړې ده چې دولتونه تل په دې هڅه کې دي چې يوه يا دوې ژبې (په ټولنه کې) د ملي او رسمي ژبو په حيث وکاروي ترڅو په دې ډول دولتي چارې په ښه ډول ترسره شي او ټولنيز پوهاوی د ګډوډيو ښکار نه شي. دا ډول پرېکړې که چېرې د انصاف له مخې وي او په سمه توګه عملي شي په خپل ذات کې ګټور او په تعادل ولاړ عمل دی، خو دا چې ژبپوهنه په دې برخه کې څه وايي بايده دي چې پوره او جدي پاملرنه ورته وشي. ۲مخ


ليکوال: علي محمد خاور

ژباړن: سرمؤلف محمد يعقوب مومند


## نواب نجيب الدوله

### (د پښتون بزګر زوی چې د هندوستان لومړی وزير شو!)

نجيب خان د سوابۍ په يوه وړوکي کلي کې نړۍ ته سترګې پرانيستې چې مور بي‌بي يې وربانډې نوم نجيب خان کېښود. د پلار نوم يې اصالت خان و چې بزګري به يې کوله، نوموړی په قوم مندړ عمرخېل يوسفزی و. د نجيب خان په زوکړې سره به هيچا دا فکر نه کاوه چې د يوه پښتون بزګر زوی به يوه ورځ د هندوستان لومړی وزير کېږي، دا هم چا نه منله چې دغه ماشوم دې د پاني‌پت په غزا کې يو ځلانده او رښتينی اتل راووځي او دا هم د چا په فکر کې نه ګرځېده چې د يوه بزګر زوی دې د يوه ولايت چارې پر غاړه واخلي او له نجيب څخه دې نواب نجيب الدوله شي او په مردان کې دې د ټولو افغانانو او مسلمانانو نوم او نښان پورته کړي. جاټ او مرهټيانو ته يې داسې تاريخي او نه هېرېدونکې ماتې ورکړه چې په عمر کې به بيا سر راپورته نه کړي او پر هندوستان يې داسې اغېزې پرېښودې چې د ياد هېواد تاريخ به له نجيب خان څخه پرته نيمګړی وي. کله چې نوموړی ځوان شو، نو پلار سره يې بزګري کوله هغه د دې لپاره چې کومې رسمي او خصوصي زده کړې يې نه وې کړې او نه يې ورته وخت درلوده، د ده يو تره چې بشارت خان نومېده د اسونو سوداګري به يې کوله او دوی هم د سوداګرۍ لپاره هندوستان ته لاړل په دې وخت کې د هندوستان د روهيلکنډ ځمکه د مردان د يوسفزيو تر ولکې لاندې وه د مردان او سوابۍ يوسفزيو ډله ډله خلک د يوسفزيو ولايت ته چې وروسته د روهيلکنډ په نامه يې شهرت پيدا کړ تګ راتګ کاوه. د مردان د تورو سيمې دوندي خان او داود خان به دې خلکو ته ځمکې او منصبونه ورکول، بشارت خان چې د نجيب خان تره (کاکا) کېده هم ورسره هلته ولاړ او په بلارنسپور سيمه کې مېشت شول. ډېر وخت وروسته کله چې بشارت خان بېرته خپل پخواني کلي ته راغی، نو نجيب خان د دېرشو (۳۰) کلونو شوی و، کله چې بشارت خان بېرته هندوستان ته په تلو و، نو خپل وراره نجيب خان يې هم له ځان سره بوته او هلته يې بيا خپله لور هم نجيب خان ته واده کړه.

بشارت خان خپل وراره نجيب خان د رامپور يو خان ته چې علي محمد خان نومېده ولېږه، هغوی هم نجيب خان د څو سپرو مشر وټاکه يعنې په اړوند ولايت کې يې د پوځ قومندان مقرر کړ، مګر د هغه وړتيا او استعداد له مخې چې الله(ج) ده ته ورکړی و نواب ته نږدې شو. نجيب خان به د نواب لپاره د ماليې راټولولو دنده هم پر غاړه درلوده، خو په دې وخت کې د سرهند ځمکوالو بغاوت وکړ او د هند پاچا د سرهند واګې نواب علي محمد خان ته وسپارلې او نواب علي محمد خان په سرهند باندې بريد وکړ. نجيب خان چې د شلو (۲۰) سپرو مسئول و، په دې جګړو کې يې داسې زړورتيا او ځواک وښوده چې سرهند د نجيب خان د برياليتوب پر بنسټ علي محمد خان قبضه کړ. علي محمد خان د ده د دغې سربښندنې او زړورتيا له امله د نجيب خان د لا نازولو او هڅولو په موخه د پنځه سوو (۵۰۰) سپرو قومندان وټاکه.

څه وخت وروسته د نجيب خان د ښځې، چې د ده د تره لور هم کېده زوی (ضابط خان) پيدا شو، خو ښځه يې مړه شوه او په دې کار سره نجيب خان ډېر غمجن شو، خو لږ وخت وروسته د مردان يوه اوسېدونکي دوندي خان چې د هغه ځای خان و خپله خور يې نجيب خان ته په نکاح ورکړه او دوندي خان د هغه زمانې د روهيلو يو لوړ پوړی چارواکی او ډېر شتمن هم و، نجيب خان يې د خپل پوځ د قومندان په توګه وګماره او ده ته يې د يوې ولسوالۍ چې دارانګر نومېده مسئوليت ور په غاړه کړ.

نجيب خان ډېر زيارکښ و. هماغه و چې ياده ولسوالي يې ډېره اباده کړه کله چې يې ورته د دارانګر ولسوالۍ چارې وسپارلې، نو ده د دغه سيمې ټول ځمکوال او بزګران راټول کړل او دوی ته يې دوې مسئلې جوتې کړې.

لومړی دا چې ماليه يې وربانډې نيمه کړه په دې سربېره ټولو بزګرانو ته يې د ودانولو لپاره پرته له کوم بديل او ګټې څخه د پور په شکل شاړې ځمکې ورکړې او بل دا چې د ښار په ټولو سوداګرو او هټيوالو باندې يې ماليه نيمايي کړه، څه وخت وروسته د دارانګر ولسوالۍ د يوه ښکلي ښار په توګه شهرت پيدا کړ.

کله چې خلکو د دې ښار امن او سمسورتيا وليدله، نو د نورو ښارونو کډوالو هم دې خواته مخه وکړه.

څرنګه چې نجيب خان هم خپله يو بزګر و، نو په همدې بنسټ يې د دارانګر په سيمه کې د کر او کروندې انقلاب راووست. بل مهم او بنسټيز کار يې چې وکړ هغه په دې سيمه کې د يوې لويې مدرسې جوړول و. په دې مدرسه کې غوره علماوو تدريس کاوه او ټولو زده کوونکو ته يې وړيا زده‌کړې او کتابونه ورکول. سربېره پردې بې وزلو زده‌کوونکو سره به يې مالي مرسته هم کوله، که څه هم دی خپله نالوستی و، خو د علم او پوهې په ارزښت ډېر ښه پوهېده. ده د خپل پلرني ټاټوبي (مردان او صوابۍ) څخه په سلګونو خلک راوغوښتل او دوی ته يې ځمکې او په پوځ کې ښې ښې دندې ورکړې او د دارانګر ولسوالۍ يې په يوه سمسور او ښکلي ښار بدله کړه.

کله چې دوندي خان دا ښار وليده، نو د نواب علي محمد خان څخه يې څو نور کلي هم په بيه واخيستل او نجيب خان ته يې وسپارل، په دغه وخت کې د ډيلي د پاچا او د ده د وزير صفدرجنګ په منځ کې اختلافات پيدا شول، صفدر جنګ يو ډېر پياوړی او زورور نواب و او دی له هندوانو سره يو ځای شو او د ډيلي او د پاچا په کلابندۍ يې پرېکړه وکړه او بيا يې وربانډې بريد وکړ، مغل پاچا ډېر کمزوری او تش په نامه پاچا و ځان يې په کلا کې پټ کړ، افغان روهيلو او خپلو نورو رياستونو ته يې د ځان د مرستې په موخه ليکونه ولېږل او له بلې خوا صفدرخان هم افغان مشرانو ته د مرستې ۳مخ

لیکوال: پروفیسر انور جمال
ژباړه: نازو کمال




**۴۱. توارد**

شعري اصطلاح ده. د دوو شاعرانو بیان کړې موضوع چې یا په بشپړه توګه یا زیاته برخه یو ډول وي، توارد ګڼل کېږي. ادبپوهان یې په دې ډول هم راپېژني: د دوو شاعرانو مضمون چې سره په ټکر کې شي. په خیالي نړۍ کې ډېر کله داسې کېږي، چې یو شاعر یوه موضوع اول په شعر کې بیان کړي، وروسته د بل شاعر په ذهن کې توارد شي. دا درې علتونه لري:

۱. چې شاعر د مطالعې پر مهال کوم ښکلی خیال یا مضمون ولولي، هغه یې د شعور په کومه برخه کې خوندي پاتې شي، تر څه مودې وروسته یې په یاد نه وي چې دا مضمون د چا و او په غیر ارادي ډول یې د شعر یا نظم برخه شي.

۲. په تصادفي ډول هم داسې کېږي، چې شاعر داسې فکر بیان کړي، چې تر ده دمخه بل چا په شعر کې راوړی وي.

۳. په ارادي ډول د چا فکر په خپلو الفاظو کې بیان کړي (چې دا په غلا کې هم راځي).

**۴۲. بغاوت**

بغاوت کره کتنیزه اصطلاح ده، له مروجو ادبي روایاتو څخه انحراف ته بغاوت ویل کېږي. د بغاوت کلمه که څه هم په غوږونو سخته لګېږي، خو دې اصطلاح د شعر او نثر په موضوع او بڼه کې ډېر بدلولونه رامنځته کړي دي، همدارنګه د مډرنیزم پیل هم له همدې بغاوته شوی دی. د ډېرو ادبي تحریکونو او غورځنګونو د رامنځته کېدا اصلي دلیل همدا بغاوت دی او جوته ده چې بغاوت د نوي نظام په رامنځته کېدو او د هغه پر بنسټ ژوند او ادب ته نوې معنا او پراختیا وربخښي، چې په انګریزي ادبیاتو کې میتسو، آرنلډ، تین، ایدګر الن پوه یې بېلګې دي.

**۴۳. د جزیاتو انځورونه**

په شاعرۍ یا کیسو کې د کومې پېښې د انځورولو پر مهال چې یوه ډېره عادي برخه یا پېښه هم په نظر کې ونیسي، پام ورته وکړي، هغه ته د جزئیاتو انځورونه وایي او دا کار ځانګړې وړتیا غواړي.

**۴۴. ښکلا (BEAUTY)**

ښکلا د فنونو تر ټولو مهمه اصطلاح ده، چې حسن او ښایست یې هم بولي. نړۍ او د انساني ټولنې فرهنګي ډله له پیله د ښکلا لپاره د جامع تعریف د ټاکلو هڅه کوي، خو له دې هڅې سره سره یې داسې الفاظ نه دي موندلي چې د ښکلا بشپړ تعریف وټاکي. البته یونانیانو له ډېره فکره او بحث وروسته ځینې عناصر ورته ټاکلي چې د هغو پر اساس یې د تناسب مترادفه کلمه ګڼي. افلاطون وایي: حسي او روحاني خوښي ښکلا ده. ارسطو یې نیکي او له نیکي څخه ترلاسه شوې خوښۍ ته ښکلا وايي. لون جایي نس ترفع ښکلا ګڼي. اګستاین په توازن او تناسب کې د رنګ عنصر هم شاملوي او ښکلا یې بولي. کیټس رښتینولي د ښکلا معیار ګڼلی. کروچې وایي: بشپړ بیان ښکلا ده. وایټ هېډ هڅه کړې چې تر نورو یې لږه واضح راوپېژني، وایي: د مشاهدې پر مهال د بېلابېلو عناصر ترمنځ موزون ترتیب ښکلا ده. خو لږ ډېره بشپړه پېژندنه یې دا هم کېدای شي: په هره لیکنه کې داسې اغېز چې تر لیدو، اورېدو، لوستو او درک کولو یا محسوسولو وروسته په انسان روح کې یو خوښي ور بخښونکی خوند پیدا کړي، ښکلا ګڼله کېږي.

**۴۵. جمالیات (Aesthetic/ Aesthetical)**

هره هغه لیکنه چې بنسټ یې پر ښکلا ولاړ وي، جمالیات ورته ویل کېږي. جمالیات د فلسفې مهمه څانګه ده، چې ښکلا، او د ښکلا په اړه، د ښکلا ماهیت، له کومه سرچینه اخلي، د دغو ټولو برخو په اړه بحث کوي. سره له ټولو اختلافاتو سره سره چې پوهان یې په خپل منځ کې لري، بیا هم یو ټکی یکې مشترک دی، هغه دا چې ښکلا د خوند او آرامۍ سبب ګرځي، که دا ښکلا په هنري تناسب کې وي یا هم د انسان د غړیو ترمنځ دا تناسب او توازن موجود وي.

**۴٦. حس (Sense)**

حس د ارواپوهنې اصطلاح ده، په اروپوهنه کې هغې ساده تجربې ته ویل کېږي، چې له بویولو، څکلو، لیدو، اورېدو او لمس کولو له لارې ترلاسه کېږي. د دې تجربې پر اساس موږ له څیزونو خبرېدای شو، آن ټول ژوي هم د حواسو له نعمت څخه برخمن دي. انسان د حواسو له لارې د حاصل شوي علم ترتیب، تنظیم، تشریح، توضیح او ډلبندي کولی شي. په ادبیاتو کې له حالاتو، پېښو او د نورو له احساساتو د اغېزمنېدو عمل ته حس ویل کېږي.

**۴۷. حسي (Sensory)**

هغه تجربه چې پر حس ولاړه وي، حسي ده. شاعر یا لیکوال د حسي تجربې پر اساس د کلمو په واسطه په شعر او ادب کې انځورونه کوي. په اصل کې همدا حسي تجربه پر هنري یا تخلیقي تجربه بدلېږي.

**۴۸. حسیت (Sensation)**

حسیت د انسان په وجود کې هغه صلاحیت دی، چې له بهرنیو پېښو اغېزمنېږي. په ادبیاتو کې دا اصطلاح د (نوي حسیت) په نامه مشهوره ده او هدف یې دا دی، چې نوي شاعران او لیکوال خپل شاوخوا حالات په چټکتیا او دقت سره ویني، خپلوي یې او بیا یې په هنري تجربه بدلوي.

**۴۹. حشو (Superfluous/ Padding)**

دا شعري اصطلاح او د کلام عیب ګڼل کېږي. داسې کلمه یا کلمې چې له دې پرته د شاعر یا لیکوال مفهوم یا هدف پوره ارایه کېدای شي. دا د کلام لوی عیب دی، کله چې یوه کلمه په خپله د یوه مطلب د پوره بیان وړتیا لري، نو د نورو او بې ځایه کلمو ورسره راوړل بې معنا او عیب دی. آن ادب پوهان یې ادبي ګناه بولي.

**۵۰. خارجیت (Externality)**

شعري او کره کتنیزه اصطلاح ده، چې شاعر پر بهرنیو پېښو، مسایلو او اړیکو ولاړه شاعري وکړي، خارجیت ګڼل کېږي. خارجیت خوښونکي شاعران د ژوند بیروني سطحې ته ګوري. ظاهر کتنه، محفل آرایي او انجمن خوښونه یې عناصر دي.

## رښتيني نېکمرغي

انسان له ادمه تردې دمه د نېکمرغۍ لپاره هاند او هڅې کوي. ځینې خپله نیکمرغي په مال راټولونه کې ګڼي، خو چې دا هیله یې ترسره او د ډېر مال او پانګې څښتن شي، ویني چې رښتینې نېکمرغي په مال او پانګه کې نه ده، بلکې دا پخپله ناهوسایي او د اندېښنې ستر عامل دی. ځینې نور یې د لوړ مقام او منزلت په ترلاسه کولو کې ګڼي خو چې تر ډېرو هلو ځلو وروسته هغه ترلاسه کړي، د ځان غوښتنې او مقام ساتنې احساس او اړتیا یې په زور زیاتي کولو اړباسي او په خپله دې نتیجې ته رسېږي چې لوړ مقام نه یوازې دا چې هغوی نېکمرغه کولی نه شي، بلکې له سمې لارې، انسان‌دوستي، له ښوزلو سره همدردۍ او نورو غوره انساني اخلاقو او فضیلتونو څخه یې راګرځوي او د بدمرغۍ کندې ته یې غورځوي.

ځینې نور بیا نیکمرغي د نړۍ ګوټ ګوټ ته په سفر کولو، ګرځېدو او ننداړو کې ګوري او ځینې عیش، عشرت، مادي خوندنه او رنګونه د نېکمرغۍ وسیلې ګڼي او....

لنډه دا چې د نړۍ ټول وګړي لوی دي که واړه، ښځې دي که نارینه د خپلې نېکمرغۍ او سوکالۍ په لټه کې دي، کار، فعالیت او غورځی پرځی کوي چې برې اونیکمرغۍ ته ورسېږي، خو په هر دم او قدم کې له ناهیلۍ نه پرته بل څه نه تر لاسه کوي. چې له همدغو هلو ځلو او غورځو پرځو وروسته د خپل ژوندانه په وروستیو شپو او ورځو کې ستړې ستومانه، بې ځواکه اوبې واکه په یوه ګوښه کې پریوځي، له یو عالم ارمانونو افسوسونو او ناهیلو نه پرته بله زېرمه اوتوښه نه لري.

ښه چې داسې ده، نو بیا رښتیني او تلپاتې نېکمرغي په څه کې ده؟

آیا ښه خواړه، په ارامه ویده کېدل او ښه ژوند تېرول د نېکمرغۍ معنا لري؟

د پورتنیو ټولو پوښتنو ځواب منفي دی، ځکه ټول هاغه وګړي چې دغو بریو ته رسېدلي دي، ځان نېکمرغه نه ګڼي.

نو!

رښتینې او همیشنۍ نیکمرغۍ په قناعت او رضایت کې ده. هغه غریب اوبېوزلی چې په کوډله کې ژوند کوي، او له خپل ژوند نه راضي دی، هماغه یو نېکمرغه انسان او موږ یې په څېره کې د خوښۍ او نېکمرغۍ نښې لیدلی شو.

هغه مامور او کارکوونکی چې خپله دنده په سمه توګه سرته رسوي، هغه ډاکټر چې په پوره اخلاص او صداقت د خپل ناروغ دارو درمل کوي، هغه پلار او مور چې د خپلو اولادونو سمه پالنه او روزنه کوي، که له خپل ژوند نه راضي او قانع وي او پر هغه څه چې هغوی یې د دې په مقابل کې ترلاسه کوي، راضي وي، دا ټول ډېر نېکمرغه وګړي دي او پرته له دې رښتینې نېکمرغي هیچېرته په بل نوم او عنوان نه شو لیدلای.

## د لرەکیو ژبې...

ډېر اصولي دریځ دا دی چې د ټولنې ټول غړي باید چې د هېواد رسمي ژبې زده کړي، دفتري چارې پرې وکړي او د ټولنیز پوهاوي پروسه ورباندې پرمخ بوځي. په همدې ډول د دې لپاره چې وړې یا د لرەکیو ژبې له منځه ولاړې او ورکې نه شي باید چې ویونکو ته یې په خپله مورنۍ ژبه د زده‌کړې شرایط برابر شي. د دوی په ژبو دې خپرونې وشي او په رسنیو او مطبوعاتو کې دې برخه ورکړل شي. د دوی فولکلور او کلتور ته باید ژوره پاملرنه وشي. زموږ د هېواد په ځینو سیمو کې یو شمېر وړې ژبې متروکې شوې او ځینې یې د متروکېدو په درشل کې دي. مسئولین باید دې ټکي ته توجه وکړي او پرېنږدي چې زموږ د هېواد ځینې ژبې له داسې غمیزې سره لاس او ګرېوان شي او په پای کې د مړو ژبو په لیکه کې ودرېږي. هره ژبه که هغه یوه ستره ژبه او یا هم یوه وړه ژبه وي خورا لویه کلتوري لاسته راوړنه ده او د هغې د تحول، تکامل او پرمختګ د پړاوونو سره د بشري ټولنې تجربې تړلې او غوټه شوې دي. د یوې ژبې ورکېدل په واقعیت کې د خلکو پر هڅو، فعالیتونو، کړنو او لاسته راوړنو باندې د خاورو اړول دي. موږ دلته د وړو ژبو د راتلونکې په اړه د څو ټکو یادونه وکړه. که چېرې دې ربړې ته په نړیواله کچه پام ونشي، لرې نه ده چې ډېرې سترې ژبې به هم د وخت په تېرېدو سره د داسې برخلیک سره مخامخ شي، ځکه چې د ګوتو په شمېر هېوادونه او د دوی ژبې سیاسي، اقتصادي او... برترې لري او ټولې نړیوالې پرېکړې هم د همدغو هېوادونو په ژبو کېږي. دا داسې یو فکتور دی چې ټولې سترې او وړې ژبې تر اغېزې لاندې راولي او زیان ور رسوي. که چېرې د ژبو روزنې او پالنې ته توجه ونشي دا شونې ده، چې د نړۍ د ژبو شمېر به، چې ژبپوهان او د ژبو څېړونکي یې له درېوو څخه تر اووه زرو پورې ښیي د وخت په تېرېدو سره کم شي او د نړۍ پرمختللې ژبې به دا امکان ولري چې د نړۍ ولسونه یې د ژوندي پاتې کېدو او د خپل ژوند د پایښت لپاره وکاروي.

زما په خیال خو که چېرې سړی د واقعیت څخه سترګې پټې نه کړي، نو د نړۍ د ژبو د کورنیو څخه د اندو اروپايي ژبو د کورنۍ څو اروندې ژبې دا چانس لري چې په راتلونکې کې په ټوله نړۍ باندې وزرونه وغوړوي، د نړیوال پوهاوي راپوهاوي صلاحیت خپل کړي او نورې ژبې له مخې وغړوي. دا هغه څه دي چې اوږده زماني واټن ته اړتیا لري او د اوس یا نیږدې راتلونکې خبره نه ده. دا امکان هم شته چې دا اټکل به بل ډول پایلې ولري، مګر په اوسني وخت کې خو د پورته یادې شوې ژبنۍ کورنۍ څو اروندې ژبې په نړۍ باندې خپل واک او راج چلوي.

دا چې په دې لیکنه کې خبره د لرەکیو د ژبو په ګانده باندې راڅرخي نو باید چې د دوی ژبې وروزلې او وپاللې شي ترڅو د بشریت د یوې پام وړ برخې کلتوري ارزښتونه له ورکېدو او پوپنا کېدو څخه په امان کې او خوندي پاتې شي.

## شاعر او لیکوال عبدالرحیم مجذوب...

وزیر چې په مجذوب کتاب لیکلی، وایي چې عبدالرحیم مجذوب د جدید ادب د شلمې پېړۍ په ادب کې د ښکاره نوم په توګه پېژندل کېږي. مجذوب په پښتو ادب کې د رومانتیسیزم په حوالې سره ځانګړې حیثیت درلود، کومو کسانو چې په پښتو ادب کې رومانټیسیزم دود کړی و، په هغو کې د مجذوب نوم په لومړي کتار کې دی.

هغه وویل، په پښتو کې ایوب صابر په ډېره مېړانه سره د ازاد نظم پیل یا وکالت کړی، خو نوموړی دعوه کوي که څوک په ازاد نظم پوهېده، نو هغه مجذوب و.

**د مجذوب کتابونه**

عبدالرحیم مجذوب د زیړ ګلونه، لال او کوتي لال، دارالاوهام، د میني تنده، د مجذوب کلیات، د کلیاتو دویمه برخه او د کلیاتو درېیمه برخه، د مروتو کسرونه، د نور مظهرونه (په روحانیاتو) چاپ کتابونه دي او ګڼ شمېر مقالې او افسانې یې هم لیکلې دي.

په مجذوب لیکل شوي کتابونه او څېړنې: په ارواښاد مجذوب باندې محب وزیر د (مجذوب د شاعرۍ تنقیدي مطالعه) کتاب لیکلی، احمد جان مروت پرې (درد او مجذوب) بل کتاب لیکلی، په کراچۍ کې پرې د (مجذوب نمبر) چاپ شوی، د مانسهرې پوهنتون نه پرې د شپاړسم ډګري او په باچا خان پوهنتون کې پرې (د مجذوب په شاعرۍ کې کردار نګارۍ) باندې ایم فل روان دی.

د عبدالرحیم مجذوب درې زامن او څلور لوڼه دي.

پخواني ولسمشر حامد کرزي د هغه د مړینې په پیغام کې ویلي: اروښاد عبدالرحیم مجذوب د خپل خوږ ژوند په اوږدو کې د پښتو معاصر شعر او ادب لپاره د قدر وړ او نه هېرېدونکې هلې ځلې تر سره کړې او ګڼ شمېر لیکنې یې خپلو مینه والو ته په یادګار پرېښي. د هغه مړینه د پښتو ادب لپاره یوه ستره ضایعه ده.

## څېړنه بېړ سرچينې...

وخت سره زر دي.

هغه کتابونه او رسالې چې په څېړنيز کار کې ترې ګټه اخيستل کېږي په خپل ذات کې سره توپير لري او څېړونکي بايد هغه ډلبندي کړي، معتبر او عادي يې سره جلا کړي او د ارزښت له مخې يې تنظيم کړي. که چېرې موږ د يوې موضوع په اړه څېړنه کوو؛ نو هرو مرو په خپله څېړنه کې له بېلابېلو مأخذونو څخه ګټه اخلو، چې دغه مأخذونه ځينې معتبر او ځينې يې ډېر عادي دي؛ نو څېړونکي ته بويه چې په لومړي سر کې د ګټنې وړ مواد وپېژني او په خپله څېړنه کې له داسې اثارو څخه ډېره ګټه وانخلي، چې سبا د ده څېړنې ته زيان رسوي.

د څېړونکو په اند د منابعو کتابونه خورا ډېر ډولونه لري، چې ځينې يې په دې ډول دي:

ويي پوهنه، سيندونه، په بېلابېلو کچو کې تخصصي او عمومي فرهنګونه، ژوندليکونه، تاريخونه، په ځانګړې توګه تذکرې، د ادبياتو تاريخونه، مشهور او پېژندل شوي کتابونه، د صوفيانو د بېلابېلو پوړيو اثار او دې ته ورته نور مأخذونه په منابع پېژندنه کې راځي.

منابع سرچينو ته د نږديوالي او اصالت له مخې هم سره توپير لري او همدا توپير دی، چې لومړي لاس منابعو ته يې تر ټولو زيات ارزښت ورکړی، په دې معنا که چېرې د يوې موضوع په اړه څو منابع موجودې وي، نو ترټولو لرغونې او د لومړي لاس منابع ارزښت لري، داسې لومړی لاس چې د خپله ليکوال په وسيله او يا هم د هغه پر مهال د هغه پر سلا مشوره جوړه او ترتيب شوې وي.

ډېر ځله داسې هم شوي چې دويم لاس منابع تر ټولو ډېر ارزښت پيدا کړی او لامل يې هم دا دی، چې څېړونکی په لومړي لاس منابع کې داسې خبرې ويني، چې وروسته هغه ښاغلي ليکوال لرې کړي او يا يې په کې سمونې راوستي. دا خبره اوس مهال دود ده، چې هر ليکوال ډېر ځله خپل څېړنيز اثار په خپل ژوندوني څو څو ځلې چاپوي او په هر ځل چاپ کې يې په کافي اندازې بدلونونه راولي او نوې زياتونې په کې کوي؛ دا ځکه چې حالات ورځ تر بلې بدلېږي، نوې غوښتنې او نوې اړتياوې انساني ټولنې ته لار پيدا کوي او دغه اړتياوې د دې لامل کېږي چې انسان خوځند پاتې شي او په هر حالت کې رښتيا پيدا کاندي او د څېړنې موخه هم د رښتياوو او حقيقت پلټل دي؛ نو ډېر ځله داسې هم شوي چې يو څېړونکی د يوې موضوع په اړه په سلګونو مخه څېړنه وکړي؛ خو وروسته له اصلي حقيقت سره مخامخ شي له داسې حقيقت سره چې د ده پر ټول کړي کار د بطلان کرښه را کاږل کېږي، نو څېړونکي ته بويه چې پر دغې نوې موندنې خوشحاله شي او داسې فکر وکړي، چې د ژوند يو ډېر مهم ورک شوی شی يې پيدا کړی دی؛ ځکه موږ پورته هم نغوته وکړه چې د څېړنې موخه د رښتياوو پلټل او په ډاګه کول دي. دلته د ده ټول کړی کار تر نوي پيدا شوي حقيقت ډېر ارزښت نه لري او د ده کار هم د همداسې يوې خبرې د زبات لپاره و.

په هر حال، کله چې له منابعو څخه ګټه اخلو، نو بويه چې د متن چاپ، سمونې او څرنګوالي ته يې هم پاملرنه وشي او د څېړنې پر مهال هغه چاپ ته ارزښت ورکړل شي، چې په هغې کې د انتقادي تصحيح ټول ضوابط په پام کې نيول شوي وي. له بله پلوه په منابعو او ماغذونو کې بايد دا لاندې ټکي په پام کې ونيول شي:

د ويي پوهنو او فرهنګونو په سريزه کې بايد له دوی څخه د ګټې اخيستلو عمومي شرحه وړاندې شي، چې له لوستونکي او څېړونکي سره د کار په اسانۍ کې پوره ګټور واقع شي او د وخت له ضايع کېدلو څخه يې مخنيوی وشي او په عين حال کې سرې کولای شي يوازې په سريزه کې خپله موضوع پيدا کاندي.

که چېرې موږ له همدغو منابعو څخه نقل کوو؛ نو بايد په بشپړې امانتدارۍ سره يې وکړو، څکه يو څېړنيز اثر يا مقاله کيدای شي په کافي اندازې نقل قولونه ولري؛ خو که چېرې نقل قولونه په سمه توګه را وانخيستل شي او داسې څرګند شي، چې ګواکې د ليکوال خپل ذهني محصول دی او وروسته بيا ثابته شي چې هغه الفاظ د ده نه دي؛ نو بيا د ده موجوده څېړنه ده، ته د ګټې پر ځای زيان رسوي او د ادب او څېړنې په ډګر کې يې نه يوازې نوم بدنامېږي، بلکې د تل لپاره يې پر ليکلو هم د تېروتنو او له بل څخه د غلا کولو ټاپه لګول کېږي چې همدا اوس يې هم بېلګې زياتې دي، آن تر عالي زده کړو پورې يې زده کړې کړې دي، خو بيا يې هم خپل بايللی عزت بېرته ونه موندلای شو.

نو د ادبپوهانو په اند که چېرې موږ نقل قول د لنډون په توګه را اخلو نو بيا بايد دې خبرې ته پاملرنه وکړو، چې د موضوع نجوړ داسې وړاندې کړو چې اصل متن ته په کې زيان ونه رسېږي او د اصلي معنا پر ځای بدله معنا ونه ښندي، يعنې ويلای شو چې نقل قول په کافي اندازې ځيرنه او پوهه غواړي، څکه که لږه بې‌غوري په کې وشي؛ نو ډېرې ستونزې زېږوي.

که چېرې موږ له يوې منابع څخه نقل کوو او په هغې کې څه ستونزه پېښه شي؛ نو په دې صورت کې په کار ده چې لومړی د ياد متن مخينې ته پاملرنه وکړو او بيا يې د لومړي لاس نسخې او دويم لاس نسخې ځانته معلومې کړو؛ څکه ډېر ځله د نسخو لرغونوالی زموږ ستونزه هوارولای شي.

ځينې وخت داسې هم پېښېږي چې موږ په يوې ځانګړې موضوع کار کوو چې ډېره اړينه هم ده؛ خو له بده مرغه يا ورته ګوتې نه شو وړ وړلای او يا هم ځينې نور ممانعتونه وي چې موږ نسخه نه شو کتلای په داسې حالاتو کې څېړنه او منابع پېژندنه حکم کوي، چې تاسې بايد په داسې حال کې د خپلو اړوندو موادو انځور واخلئ او بيا د انځور له مخې خپله اړتيا پوره کړئ.

د منابع پېژندنې بله تر ټولو لويه ښېګڼه دا هم ده، که چېرې له موږ وړاندې په يوې موضوع چا کار کړی وي؛ نو هغه موږ ته بيانوي او موږ بيا دويم ځلي د هغې له تکرار څخه منع کوي؛ خو که چېرې په شوي کار کې ستونزې وي، نو بيا د څېړنې آرونه دا حکم کوي چې هغه تېروتنې سمې شي او لوستونکي په تياره کې پاتې نه شي؛ نو په ټوليزه توګه ويلای شو منابع پېژندنه هغه پوهه ده، چې له يو څېړونکي سره د څېړنې په ډګر کې نيم په نيمه کار اسانوي او د څېړنې په هره برخه کې ورسره پوره پوره مرسته کوي، چې په حقيقت کې څېړنې ته رښتينولي ور په برخه کوي. (۱)

**مأخذونه:**

۱. ګیلانی، احمدسمیعی. نګارش و ویرایش، سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی: تهران، ۱۳۸۳ لمریز کال، ۳۹- ۴۰ مخونه.

## نواب نجیب ...

په موخه ليکونه واستول او دا يې ورسره وعده وکړه، که چېرته زه پاچا شوم نو تاسو ته به ډېر منصبونه او ځمکې درکړم، کله چې دواړه لورو څخه روهيلکنډ ته ليکونه راورسېدل، نو په دې وخت کې د روهيلکنډ خلکو جرګه وکړه په دې جرګه کې نواب حافظ رحمت‌خان او دوندي خان د صفدرجنګ د ملګرتيا کولو مشوره او پرېکړه وکړه، خو نجيب خان چې د دوندي خان زوم هم و، د ډيلي د پاچا په حق کې يې داسې دليل او خبره وکړه، چې که چېرته مغل پاچا په کلابندۍ سره صفدرجنګ او د ده لارويان د هندوستان مالکان شول، نو په هندوستان کې به د هندوانو واک ټينګ شي او مسلمانانو ته به ډېرې زياتې ستونزې را پيدا کړي، د نجيب الدوله د دغه دريځ ټولې جرګې ملاتړ وکړ او د پرېکړې له مخې نجيب خان له زرو (۱۰۰۰) سپرو او (۲۰۰۰) زره پياده پوځ سره مل چې د پښتنو او نورو شته قومونو ځوانانو څخه جوړ شوی و د پاچا د مرستې لپاره د ډيلي په لوري روان شول چې ورو ورو په مخ کې پرتو ښارونو او کليو څخه نور پښتانه هم ورسره يوځای شول، کله چې ډيلي ته ورسېدل نو د نجيب خان په مشرۍ دپښتنو (۲۰۰۰۰) زره لښکرو او د صفدرجنګ ترمنځ سخته جګړه ونښته هماغه و چې سوبه د نجيب خان په برخه شوه.

سورج مل جاټ وتښتېده کيسای چې د صفدرجنګ له جنګياليو څخه و، ووژل شو او صفدرجنګ هم له ميدان څخه په تېښته بريالی شو د ګنګاه له سيند څخه پورې ووت او ښنه يې وغوښتله، پاچا صفدرجنګ ته ښنه وکړه او د نجيب خان د هرکلي لپاره پاچا خپله له کلا څخه بهر راووت په همدغه وخت کې نجيب خان ته يې د نجيب الدوله لقب او د نوابۍ د بيرغ وياړ ورکړ او ترخنګ يې د سهارنپور ټوله سيمه هم ورته ډالۍ کړه کله چې نجيب الدوله خپلې سيمې ته ورسېده ،پښتانه قبايل د ده په بريا او نوابۍ ډېر خوشحاله شول او له ډېرې خوشحالۍ څخه يې لوی لوی جشنونه جوړ کړل چې دغه افغاني جشنونه نږدې يوه مياشت وغځېدل د مردان له بېلابېلو سيمو څخه خلکو د نجيب الدوله په ملاتړ ځانونه ور ورسول او خپل ملاتړ يې ورڅخه اعلان کړ او په دې وخت کې د مظفرنګر يو ځمکوال جيټ سنګ سرکشي وکړه، دوی د افغانانو له لښکرو سره په جيټ سنګ باندې بريد وکړ او هغه ته يې ماتې ورکړه او مظفرنګر يې تر خپل واک لاندې راووست. نجيب الدوله په ۱۷۵۲ زېږيز کال کې د تانس ندي (تانس سيند) پر غاړه يو نوی ښار په خپل نامه ودان کړ او د هغه وخت يو له عصري او پرمختللو ښارونو څخه شمېرل کېده او نجيب الدوله د خپل ځان لپاره ښايسته ودانۍ جوړه کړه او په دې ښار کې يې ښوونځي، ښارګوټي او سوداګريزې منډيانې هم جوړې کړې.

انګرېز تاريخ ليکونکو په يوه خوله دغه ښار او د نجيب الدوله انتظامي صلاحيتونو ته سلامي ووهله، ورځ تر بلې د مغلو واکې مخ په زوړ وې او د هندوانو واک او ځواک ورځ تر بلې پراخېده په ځانګړې ډول د مرهټيانو زور او دبدبه بېخي ډېره شوه د لکونو لښکرو او غټو غټو ودانيو څښتان شول. په دې وخت کې د هندي قوم‌پالانو ګڼ ځواک ډيلي ته روان شو او د هندوستان په ډېرو سيمو باندې د هندوانو واک او ځواک جوړ شو.

هېواد کې له ملک‌الطوايفي څخه هندوانو ګټه واخيستله او د مسلمانانو پر خلاف يې يو منظم خوځښت پيل کړ چورملجاټ، سورجملجاټ، جواهرملجاټ، مرهټيانو، سکانو او راجپوتيانو د مسلمانانو ژوند ډېر تريخ او تنګ کړ او مسلمانان يې د هندوستان څخه وېستلو ته اړ کړل، په دې وخت کې نواب نجيب الدوله د افغاني ولايتونو نوابان په اعتماد کې راونيول او د پېښور د ځمکنيو د مياعمر بابا څخه يې غوښتنه وکړه چې هغه د افغانانو پاچا احمدشاه بابا ته پر هندوستان د بريد حکم ورکړي، نوموړی ستر شخصيت د ځمکنيو د مياعمر بابا پيرو او مريد و او نواب نجيب الدوله له ټولې کورنۍ سره د ميا صاحب پيرو و.

د ځمکنيو ميا عمر بابا احمدشاه بابا ته لاربښوونه وکړه چې هغه ډېر ژر په هندوستان بريد وکړي، ترڅو هلته مېشت مسلمانان چې د کفار تر سخت ظلم لاندې دي خلاصون ومومي او ورسره يې نجيب الدوله ته لاربښوونه وکړه چې د هندوستان د ټولو مسلمانو ولايتونو پاچاهان په جګړه کې له احمدشاه بابا سره په يو ځای کېدو کې مرسته وکړي.

نجيب الدوله هندوستان ته لاړ او ټول مسلمان ولايتونه يې د ډېر کوښښ څخه وروسته د هندوانو پرضد له احمدشاه بابا سره په مرستې راضي کړل د هندوستان په تاريخ کې ډېره سخته جګړه چې کوم ده هغه د پاني‌پت خونړۍ جګړه ده.

احمدشاه بابا د افغاني سرتېرو له لښکرو سره پر هندوستان بريد وکړ په هندوستان کې د افغاني ولايتونو پاچاهان هم د تيار لښکر سره ميدان ته راووتل په دوی کې د مردان حافظ رحمت خان، دوندي خان، محمد بنګښ، اميربېک، برخوردارخان، شجاع الدوله او نواب نجيب الدوله موجود وو. په دوی ټولو کې د نواب نجيب الدوله لښکرو تر ټولو نه ډېره منظمه وسله درلوده.

بلې خوا ته مرهټيان د لکونو په شمېر د جګړې ډګر ته راووتل نجيب الدوله چې د هندوانو په پام کې و ډېر بريدونه ورباندې وشول. خو د نجيب الدوله د زړورتيا او د هغه د سرښندنې پربنسټ مرهټه شاتګ ته اړ شول او جګړه د افغانانو په ګټه او د مرهټوو پر ماتې پای ته ورسېده په دې جګړه کې د مرهټوو څخه لکونه خلک ووژل شول او د قوم‌پالانو هندوانو ګڼ ځواک په داسې انداز کې له منځه ولاړ چې تر ډېر وخت پورې يې سرونه پورته نه نشوای کړای .

د دې بريالۍ جګړې څخه وروسته احمدشاه بابا نجيب الدوله د هندوستان لومړی وزير وټاکه او مغل هسې په نامه پاچا و نور ټول واک او ځواک د نجيب الدوله په لاس کې و.

نجيب الدوله پوره نه کاله د هندوستان لومړی وزير و او په دې وخت کې دوی د جاټو او مرهټيانو ګڼ پوځ ته يو نه هېرېدونکې تاريخي ماتې ورکړه. دا لوی پوه زړور افغان يوسفزی يعنې نواب نجيب‌الدوله په ۱۷۷۰ زېږديز کال د هاپړه پر مقام باندې مړ او په نجيب اباد کې خاورو ته وسپارل شو، کوم ښار چې ده په خپله ودان کړی و.

د نواب نجيب الدوله په اړه د کورنيو او بهرنيو پوهانو نظرونه:

ـ سيد نورالدين په خپله دري قلمي نسخه کې داسې ليکلي دي: مرد صاحب جوهر بود اګر چه ناخوانده‌ای مطلق ليکن عقل بسيار او قبال داشت.

ـ انګرېز تاريخ ليکونکی مسټر والسټ په ۱۷۷۴ زېږديز کال کې ډايرکټر کنټرول ته په يو ليک کې داسې وليکل چې د انسانيت او حکومت کولو په لحاظ په ټول هندوستان کې نجيب الدوله د ښه اخلاقو او ښه استعداد څښتن و د ۵۰۰ لښکر مشرۍ څخه د لومړي وزير منصب ته ورسېده.

ـ مشهور ليکوال ګنډاسنګ د نجيب الدوله په اړه داسې ليکي: نجيب الدوله يو غوره انسان، ښه حکمران، تکړه جنرال، وتلی سياستوال، ښه منتظم او زړور سرتېری د پاني‌پت جګړه په اصل کې د نجيب الدوله او مرهټيانو ترمنځ وه چې په دې جګړه کې نجيب الدوله خپل ټول صلاحيتونه په کار واچول او خپل دښمن ته يې تلپاتې غاښ ماتونکی ځواب ورکړ.

ـ بل انګرېز تاريخ ليکونکی مېل د نجيب الدوله په اړه داسې ليکي: نجيب الدوله د ډېر لوړ او غوره شخصيت څښتن و، دغه انګرېز مخکې ليکي: چې افغان نجيب الدوله د هندوستان لومړی وزير و او د دوابه ولايت مالک هم و، زړورتيا او سرښندنه د ده نښه او نښان و، نجيب الدوله د پښتون قوم د تاريخ هغه ځلانده اتل دی چې د نوموړکی په تورو تيارو کې ورک شوی دی، د هندوستان تاريخ د دوی اتلوليو څخه ډک پروت دی خو د پښتنو په تاريخ کې د ده د لوړ شخصيت نوم هم پاتې نه دی.

په دې هيله چې افغانان خپلو تاريخي شخصيتو ته د قدر په سترګه وګوري او په دې اړه پراخې څېړنې وکړي، ترڅو نوموړکي شخصيتونه د اوسني ژوندي تاريخ سپينو پاڼو ته ورسوي او راتلونکی نسل له خپلو ځلانده اتلانو چې په نومونو يې نور هېوادونه او قومونه وياړ کوي خبر شي.

---

دغه ليکنه له مشرق مجلې څخه ژباړل شوې.

# زېرى

علمي- څېړنيزه او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

د ۱۴۰۰ ل.کال د لړم- لیندۍ میاشتې | ۱۵- ۱۸مه گڼه | پرله پسې ۳۸۳- ۳۸٦مه گڼه

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبیاتو مرکز خپرنیز ارگان

**مسئول مدير:** څېړندوی احسان الحق کبير

**مهتممه:** څېړنياره شفيقه نوري

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل، څېړندوی لطف الله صابر، څېړنياره شفيقه نوري.

**د اړيکي شمېره:** (+۹۳)۷۴۴۴۸۷۳۳۵

**برېښناليک:** zerai1316@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په خپله د ليکوالو پرغاړه دی.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار
کابل- افغانستان

**د يوې گڼې بيه:** پنځه افغانۍ



✍ څېړنوال محمد آصف احمدزی


# د فرهنگي او ادبي خبرونو پېښليک

## شاعر او ليکوال عبدالرحيم مجذوب په حق ورسېد

د پښتو ژبې مشهور شاعر او ليکوال عبدالرحيم مجذوب د ۸٦ کالو په عمر د خيبر پښتونخوا د لکي‌مروت د سرای نورنگ په ميناددخېلو کې د ۱۴۰۰هـ.ش کال د لړم پر لومړۍ نېټه (د ۲۰۲۱م کال د اکتوبر ۲۳مه) په حق ورسېد او په همدې ورځ په خپل کلي کې خاورو ته وسپارل شو.

د مجذوب د کورنۍ په وينا، اروابناد له تېرو څو ورځو نه ناروغه او په کرونا هم اخته شوی و.

د باچا خان پوهنتون د پښتو څانگې مشر ډاکټر محب وزير وايي: عبدالرحيم مجذوب د خانانو په کورنۍ کې زېږېدلی و، تر لسم ټولگي پورې يې د سرای نورنگ کې زده کړې وې، دولسم يې د ډېره اسماعيل خان او څوارلسم يې د پېښور اسلاميه کالج او بيا يې د پېښور پوهنتون د حقوقو له کالج څخه د وکالت ډگري ترلاسه کړې وه. ۲مخ

## په اسلام اباد کې د صفيې صديقي په اړه ادبي غونډه جوړه شوه

«پښتو ادبي سوسايټي اسلام آباد» د لړم پر ۲۰مه (د ۲۰۲۱م کال د نومبر ۱۱مه) د اکاډمي ادبيات رايټرز گېسټ هاوس کې د افغانستان د مشهورې شاعرې، اديبې او سياستوالې مېرمن صفيه صديقي په اړه ادبي غونډه وکړه.

په دې غونډه کې نوموړې ته د هغې د خدماتو د ستاينې ترڅنگ د ادبي سوسايټي له طرفه «شيلډ» ورکړل شو او هم يې په شخصيت او فن خبرې وشوې.

## په هرات کې مشاعره وشوه

د هرات د ځوانانو رفاه ټولنې د دغه ولايت د اطلاعاتو او فرهنگ رياست د سرپرست په گډون د مشاعرې غونډه د لړم پر ۲۲مه جوړه کړه.

په دې مشاعره کې د دغې ټولنې غړو، د اسلام د ستر پيغمبر حضرت‌محمد(ص) د نېکمرغه ميلاد د ستاينې او د هېواد د پرمختگ په مناسبت خپل او د نوروشاعرانو شعرونه ولوستل.

## د علامه اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد د سلمې کاليزې په وياړ علمي سيمينار جوړ شو

په کندهار کې د اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد د سلمې کاليزې په مناسبت علمي سيمينار د لړم پر ۲٦مه جوړ شو، چې زيات شمېر ليکوالو، اديبانو، شاعرانو، فرهنگپالو او ځوانانو په کې گډون کړی وو.

غونډه چې د کندهار پوهنتون د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه، ليکوالو په کې د پوهاند رشاد بابا په اړه خپلې مقالې واورولې.

دغه راز په هېواد کې دننه او له هېواده بهر هم ځينو پوهانو، ليکوالانو او څېړونکو خپل پيغامونه دې سيمينار ته رالېږلي وو او گډونوالو ته واورول شول.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ مشرتابه په خپل پيغام کې اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد د هېواد نوميالی ليکوال، اديب، تاريخپوه، ژبپوه، کره کتونکی، تبرپوه، مدقق، محقق او پياړوی شاعر ياد کړ او زياته يې کړه، چې علومو اکاډمي به د علامه بابا د سلمې کاليزې په وياړ يو سيمه ييز سيمينار جوړ کړي.

د اطلاعات او فرهنگ د سرپرست وزير ملا خيرالله خيرخوا پيغام د کندهار د اطلاعاتو او فرهنگ مرستيال ملا شمس الله صميم ولوست. په پيغام کې د پوهاند رشاد پر علمي ژوند او مبارزه باندې بحث شوی و. د خيرخوا په پيغام کې ويل شوي و، چې پوهاند رشاد په هر ډول حالاتو او بدلونونو کې د يوه ډېر قوي عالم په توگه کلک پاتې شو او هيڅ ډول سختو حالاتو، ظلمونو او کړاوونو ته يې سر ټيټ نه کړ.

دغه سيمينار ته استاد محمد معصوم هوتک له کاناډا څخه په خپل رالېږلي پيغام کې ويلي و چې دا ډول يوه نېک اقدام کول د ډېرې ستاينې وړ دی او د پروگرام له جوړوونکو څخه يې مننه وکړه.

دغه راز ليکوال، شاعر او څېړونکي عبدالباري جهاني هم دغه سيمينار په خپل رالېږلي پيغام کې د علامه رشاد بابا سره د خپلو خاطرو په اړه خبرې کړې وې.

څېړنوال استاد حبيب الله رفيع هم په خپل پيغام کې د علامه اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد د څېړنو په اړه خبرې وکړې او ويلي و چې علامه رشاد د هېواد او سيمې د تېرونو په اړه کافي عملي تجربه او ذخيره درلوده.

اکاډميسين پوهاند عبدالشکور رشاد سل کاله وړاندې د کندهار په بابړو کوخه کې د مرحوم عبدالغفور خان په کور کې زېږېدلی او د مړينې يې اوس شاوخوا ۱۷ کاله پوره کېږي.

استاد رشاد ۱۴۲ اثار تأليف کړي چې ۵٦ يې د هغه په ژوند چاپ شوي او د هغه له مرگ وروسته ۸٦ نور اثار پاتې شو چې ځينې يې بيا وروسته چاپ شوي دي، خو لسگونه اثار يې لا هم د مينه‌والو تر لاسونو نه دي رسېدلي.

د يادولو ده چې د ننگرهار پوهنتون په وړانديز او د علامه اکاډيميسن رشاد د سلمې کاليزې په وياړ د جوړ شوي علمي سيمينار د گډونوالو له خوا مرحوم علامه اکاډمېسن پوهاند رشاد رسماً د پښتو ادب د شيرم ستوري په لقب و نومول شو.

## په پکتيا کې مشاعره وشوه

د پکتيا مرکز گرديز ښار د لړم پر ۲٦مه د مشاعرې ډگر و چې د دغه ولايت د اطلاعاتو او فرهنگ رياست د لسگونو شاعرانو او فرهنگيانو په گډون جوړه کړې وه.

## په ننگرهار کې د «رنگين مانېام» مشاعره جوړه شوه

د ننگرهار د اطلاعاتو او فرهنگ رياست له لوري د رنگين ماښام په نوم مشاعره جوړه شوه چې په کې د دغه ولايت د مختلفو سيمو شاعرانو او د شعر مينه‌والو برخه اخيستې وه.

دغه مشاعره د ليندۍ پر ۴مه، ماښام مهال د اطلاعاتو او فرهنگ په رياست کې ترسره .

## ليکوال او شاعر اسحاق نگارگر وفات شو

نامتو افغان ليکوال، شاعر او ژورناليست محمداسحاق نگارگر د ۸۲ کلونو په عمر وفات شو.

نگارگر په ۱۳۱۸هـ. ش کال (۱۹۳۹م) په بلخ ولايت کې زېږېدلی، متوسطه يې د مزارشريف په باختر ښوونځي کې او لېسه يې د پروان په نعمان لېسه کې لوستې وه.

د کابل پوهنتون د ادبياتو پوهنځي له انگليسي څانگې فارغ شوی و. يوه موده په دغه پوهنتون کې اسيستانت و، وروسته استادۍ ته رسېدلی دی.

د استاد نگارگر د کورنۍ غړي وايي چې نوموړی د کرونا وبا په اثر د ۱۴۰۰ د ليندۍ پر ۹مه (د ۲۰۲۱م کال د نومبر ۳۰مه) د انگلستان په برمنگم ښار کې په حق رسېدلی دی.

نگارگر په ۱۹۸۴م کال له هېواده مهاجر شو او ۳۳ کاله يې په بريتانيا کې تېر کړل.

ده په بريتانيا کې د هستوگنې په موده کې په انگليسي ژبه کې ماستري هم وکړه.

د څه وخت لپاره يې په لندن کې د بي‌بي‌سي راډيو په پښتو څانگه کې هم کار کړی دی. خو آثار يې په دري ژبه کښلي دي.

د ده په آثارو کې د پوهاند مجروح د څانځاني ښامار/ اژدهای خودي تحليل، د غبار تاريخ د دويم ټوک کره کتنه او بې شمېره مقالې يادولی شو.

## ژبپوه او څېړونکی عبدالرازق پالوال هم د ژونديو له کتاره بېل شو

په کلونو روزل سوي ستر مغزونه
په يوه شېبه کې خاورې سي ايرې

ليکوال، څېړونکی، ژبپوه او د کابل پوهنتون پخوانی استاد ډاکټر عبدالرازق پالوال د ۱۴۰۰هـ. ش کال د ليندۍ پر ۱۵مه (د ۲۰۲۱م کال د ډيسمبر ٦مه) د دوشنبې په ورځ د ۸۳ کالو په عمر وفات شو.

د ده جنازه د کندهار د نوميالیو په هديره کې خاورو ته وسپارل شوه. د جنازې په مراسمو کې يې سلگونو کسانو گډون کړی وو.

د اطلاعاتو او فرهنگ رياست معاون ملا شمس الله صميم د مرحوم پالوال د خدمتونو او تسليت په اړه د اطلاعاتو او فرهنگ وزارت له خوا رالېږل شوی پيغام ولوست. د وزارت د ډاډگيرنې په پيغام کې د دکتور پالوال مړينه د افغانستان د ادبياتو او فرهنگ لپاره لويه ضايع بلل شوې وه.

استاد پالوال چې له يوې اوږدې مودې راهيسې ناروغ و، د بشر پوهنې (انتروپولوژی) په برخه کې ماستري کړې وه، د دکتورا سند يې د امريکا د پنسلوانيا له پوهنتون څخه تر لاسه کړی و. دی په پښتو، دري، انگليسي، عربي، جرمني او سانسکريټ ژبو پوهېده، په دې ژبو باندې يې ژباړې هم کړې دي او په انگليسي ژبه ناچاپ آثار لري.

دی په ۱۳۱۷هـ. ش کال د کندهار په کاکړو کوڅه کې وزېږېد، له کابل پوهنتون، جرمني او امريکا څخه يې په انتروپولوژی [وگړپوهنه (په دغه پوهنه کې د پخوانيو تاريخي مهالونو څخه تر اوسه د جغرافيايي وېشنو، تاريخ او کلتوري اړيکو له مخې انسانيت ته کتل کېږي)] کې دکتورا لرله او د کابل پوهنتون د همدې څانگې استاد و.

د ژبپوهنې دغه کادر له پوهاند زيار او استاد بايزيد اخک سره هغه پروژه کې برخه اخيستې وه چې د يونسکو له خوا د افغاني ژبو اطلس جوړولو په نيت جوړه شوې وه، د سويس هېواد له خوا د افغانستان د ژبو د يو اطلس جوړولو لپاره يې څو ژبې لکه بلوڅي، پشه يي، شوغني، سنيچي، مونجي او پراچي ثبت کړې دي.

وروسته يې د ((پښتو مصدر)) او ((معياري پښتو)) دوه نوښتگر اثره او هم پر ژبه په لسهاوو درنې څېړنيزې مقالې وليکلې، چې د ژبې د کره‌کولو په برخه کې يوه نوې هڅه ده چې په ډېرو برخو کې يې سپارښتنې د پاملرنې وړ دي.

د ثور له پېښې وروسته جرمني بيا وروسته پښين ((سرخاب)) ته کډه او ۱۹۹۷م کال بېرته وطن ((کندهار)) ته ستون شو.

استاد پالوال يو زوی او يوه لور لري چې په جرمني کې ژوند کوي.

دوکتور پالوال گڼې رسالې او مقالې ليکلي، د چاپ او ناچاپ آثارو شمېر يې تر ۵۰ پورې رسېږي. چاپ شوي آثار يې دادي:

۱ - د پښتو نوی او پخوانی تاريخ (لومړی ټوک، په انگليسي ژبه او دويم ټوک په پښتو ژبه).

۲ - د پښتو نوی مصدر، د ۱۳۸۴ل کال چاپ.

۳ - د شاه مقصود زيارت او د هغه تاريخي ارزښت.

۴ -د کالام تاريخ (له انگليسي څخه ژباړه).

۵ - معياري پښتو.

٦ - موړ محوه کيږو.

۷ - وگړي دوزخيان دي.

## شاعر او ليکوال عمر گل عسکر مړ شو

د پښتو ادب نوميالی شاعر او ليکوال عمر گل عسکر د ۷۴ کلونو په عمر د ۱۴۰۰هـ. ش کال د ليندۍ پر ۱۷مه (د ۲۰۲۱م کال د ډسمبر ۸مه) د تل لپاره له دې نړۍ سترگې پټې کړې.

نوموړی له څه مودې راهيسې د سرې کينسر ناروغي لرله او په دې وروستيو ورځو کې د يخنې له امله يې ځيگر خراب شوی و.

د نوموړي جنازه په همدې ورځ (د ډسمبر پر اتمه) ماسپښين د کوټې په کينټ هديره کې خاورو ته وسپارل شوه.

د ليکوال او شاعر عمر گل عسکر کورنۍ د کوهاټ ده، خو نوموړی د ۱۹۴۸م کال د اگست پر ۱۵مه د بلوچستان په ژوب کې زېږېدلی و.

نوموړی خپلې لومړنۍ زده کړې د ژوب په ابتدائيه ښوونځي کې کړې وې او ثانوي دوره يې بيا په بوري (لورالايي) کې بشپړه کړې وه او د لوړو زده کړو لپاره بيا کوټې ته ولاړ او (ايف ای) يې په خصوصي توگه کړې وه. عسکر له هغه وروسته په ۱۹۷۴م کال کې د بلوچستان له پوهنتون څخه (ايم ای) په اقتصاد کې کړې وه. وروسته يې د کوټې په حبيب بانک کې کار پيل کړ او په ۲۰۰۷م کال کې له همدې بانک څخه د منېجر په توگه تقاعد شو.

له لوړو زده کړو وروسته يې له ادب او ليک سره مينه پيدا شوې وه او د پښتو ادب د خدمت لپاره يې ډېر کار کړی دی.

په بلوچستان پوهنتون کې د ژبو د څانگې مشر ډاکټر نصيب الله سيماب د عمر گل عسکر د ادبي ژوند په اړه وايي: "ښاغلي عسکر د شاعرۍ ترڅنگ د تصوف خوا ته پاملرنه ډېره وه او له تېرو ۲۵ کلونو راهيسې د ادبي ټولنې ملگري ليکوال سره تړلی وو او له تېرو ۱۰ کلونو راهيسې يې د دغه ادبي تنظيم مشري هم پر غاړه اخيستې وه او د هرې مياشتې په لومړۍ او ۱۵مه نېټه يې د ټولنې غونډه کوله."

ښاغلی عسکر د پاکستان راډيو- کوټې د يوه مشهور پروگرام ملک جان او اختر جان ليکوال هم پاتې شوی او تر ډېرو کلونو يې د دغه مشهور پروگرام د ليکوال دنده لرله.

د پښتو اکاډمي يو غړی پروفيسور برکت شاه وايي، عمر گل عسکر د پښتو ادب لوی خدمت کړی او له تېرو ۳۵ کلو راهيسې يې د کوټې په جنگ اخبار کې (د پښتو محفل) په نوم کالم ليکلی. عسکر د پښتو اکيډمي غړی و او د ده وروستی کتاب (خاطرې او نظرونه) و.

د هغه د کورنۍ يو غړی سرفراز شيخ بيا وايي: "د عسکر صاحب څلور کتابونه چاپ شوي وو، په هغه کې د تحقيق ډک (خاطرې او نظرونه)، (په دايره کې کاينات) او د (خاورين وجود احساس) د شاعرۍ کتاب او د تصوف اړوند کتاب (نړيوال تصوف) شامل دي".

په ۲۰۱۷م کال کې د بلوچستان د گورنر محمد خان اڅکزي له خوا، نوموړي ته د عبدالعلي اخوندزاده (نوميالی ايوارډ) هم ورکول شوی و.

عمر گل عسکر درې زامن او دوې لوڼې لري.

## فرهنگي، ادبي او سياسي شخصيت نظار يوسفزی په حق ورسېد

ټولنيز شخصيت، سياسي او ادبي فعال نظار يوسفزی د زړه د حملې له امله د ۱۴۰۰هـ. ش کال د ليندۍ پر ۱۸مه (د ۲۰۲۱م کال د ډيسمبر ۹مه) وفات شو.

د نوموړي جنازه په همدې ورځ (پنجشنبه) مازيگر په خپل پلرني کلي شاه منصور صوابۍ کې ادا شوه.

نظار يوسفزی له اوږدې مودې راهيسې له وطن لرې په عرب امارات دوبۍ کې د مسافرۍ ژوند کاوه او څلور ورځې وړاندې دهغه بل ورور هم په صوابۍ کې وفات شوی و چې نوموړی يې د جنازې او فاتحې مراسمو لپاره دا مهال کلي ته راغلی و.

## د تصوف په اړه سيمينار جوړ شو

د ننگرهار په مرکز جلال اباد کې په «ادب کور» کې د دوکتورا د څلورو سکالرانو له لوري د تصوف په اړه سيمينار د ليندۍ پر ۲۵مه د پنجشنبې په ورځ ترسره شو.

په سيمينار کې پوهاند محمد ابراهيم همکار د ((ميرزا خان انصاري په شعرونو کې تصوفي نظريات))، پوهنمل سيد اصغر هاشمي ((په عرفان کې د مرگ او ژوند نظريه))، پوهنمل طارق ذاکر ((د عرفان او شعر اړيکې)) او پوهنمل فدامحمد الکوزي ((په هندي تصوف کې د محمد جايسي مقام)) موضوعات وړاندې کړل او په هره برخه يې تفصيلي بحث وشو.

## کندهار کې د علمي بحثونو لړۍ بياځلي پيل شوه

تر لږ ځنډ وروسته د کندهار په اطلاعاتو او فرهنگ رياست کې د دويم ځل لپاره د علمي بحثونو لړۍ پيل شوه.

د ليندۍ پر ۲۵مه، د پنجشنبې په ورځ د گرځندوی آمر عبدالشکور څپاند د فرهنگي ميراثونو په اړه معلومات وړاندې کړل چې پر مهال يې لسگونو کسانو گډون کړی وو.

نوموړي د فرهنگي ميراثونو په اړه هر اړخيز وغږېد او هم يې د ناستو کسانو پوښتنو ته ځوابونه وويل.

د يادولو ده چې د علمي بحثونو ياده لړۍ به دوامداره وي.

## د پښتو اکاډمۍ- کوټې پنځوسمه کاليزه
### (د نيمې پېړۍ علمي او ادبي يون)

په کوټه کې پښتو اکاډمي له ۱۹۷۱ څخه تر ۲۰۲۱م کال پورې د دوامداره هڅو او برياليتوبونو پنځوس کلونه پوره کړل چې په همدې مناسبت دوه ورځنی علمي او ادبي سيمينار جوړ شو.

د پنځوسمې کاليزې نمانځلو ته يې له پښتونخوا او د پاکستان له بېلابېلو سيمو څخه ليکوال، شاعران او اديبان د ليندۍ پر ۲۷مه او ۲۸مه (د ۲۰۲۱م کال د ډسمبر ۱۸- ۱۹مه) راغونډ شوي وو.

په دې سيمينار کې د اکاډمۍ پر کردار، د وطني جغرافيې او کلتور په شمول د پښتنو د ژوند په بېلابېلو برخو ليکوالو خپلې مقالې وړاندې کړې.

د پښتو اکاډمۍ د مشر سيد خيرمحمد عارف په خبره، د دې اکاډمۍ بنياد خان عبدالصمد خان اڅکزي په ۱۹۷۱م کال کې کېښود.

دی وايي، د اکاډمۍ له جوړېدو وروسته د مالي ستونزو له کبله، ۴۵ کلونو کې اکاډمۍ هغه کارونه نه وو کړي، کوم چې اوس يې په پنځو کلونو کې ترسره کړي دي. اوس يې هڅه دا ده چې لاسي نسخې او تاريخی آثار اول چاپ او خوندي کړي.

د کوټې د پښتو اکاډمۍ د مسئولينو په خبره، تراوسه يې د سلگونه تاريخي کتابونو چاپولو سره سره، زرگونو کتابونه د کتاب مينه والو او کتابتونونو ته رسولي دي، چې له دې لارې غواړي پښتانه له خپلې ژبې سره په اسانه اشنا کړي.

## "د شبنم څاڅکي" شعري ټولگې مخکتنه وشوه

په بلخ ولايت کې د شاعر روح الله روحاني "د شبنم څاڅکي" شعري ټولگې مخکتنه وشوه.

دغه غونډه د ليندۍ پر ۲۹مه د بلخ د اطلاعاتو او فرهنگ رياست په همغږۍ د مزار شريف ښار، فردوسي کتابتون د غونډو په تالار کې جوړه شوې وه چې گڼو بلخي شاعرانو، ليکوالو او د شعر او ادب مينه والو په کې برخه اخيستې وه.

په چاپ شوې شعري ټولگې د ليکوالو له لوري ليکل شوې مقالې ولوستل شوې او د غونډې په وروستۍ برخه کې ازاده مشاعره هم وشوه.

"د شبنم څاڅکي" د ښاغلي روح الله روحاني لومړنۍ شعري ټولگه ده.